کتاب: دین او جګړه

لیکوال: ولي الله ملکزی

چاپ کال: ۲۰۲۲

لنډیز: فضل ولي ولي

کتاب پېژندنه:

دین او جګړه چې یوه تاریخي څېړنه بلل کېږي د ښاغلي ولي الله ملکزي هغه اثر دی چې په دین کې د جګړې اصل روښانه کوي، دا اثر چې د ۴۱ بېلا بېلو ماخذونو څخه په استفادې په ۱۸۵ مخه کې لیکل شوی په کال ۲۰۲۲ م دوه زره، دویشتم کې لیکوال په خپل شخصي لګښت چاپ کړی او خپور کړی نو راځئ په دې ویډیو کې د همدې کتاب په منځپانګه غږېږو چې نور کوم موضوعات بحث کوي.

کتاب لنډیز:

دین او جګړه لکه څنګه چې ما د کتاب په پېژندنه کې یادونه وکړه هغه څېړنیز اثر دی چې په دین یا ادیانو کې د جګړې اصل روښانه کوي. ولي الله ملکزی په دې کتاب کې چې د دین او جګړې په اړه یوه تاریخي کتنه او څېړنه ده. د حضرت محمد صلی الله علیه وصلم په ژوند د شوو سرایاوو، غزاګانو او همدا رنګه په اموي، عباسي او عثماني پېړونو کې په بېلا بېلو لویو وچو او هېوادونو کې د سوبو، امارتونو، واکمنیو، نړیوالو جنګونو، ادیانو، مذهبونو او د تشدد د غریزې د لاملونو په اړه لنډ خو خورا جامع معلومات وړاندې کوي.

دین او جګړه چې ټول ټال شپږ څپرکي لري؛ په لومړي څپرکي کې د نړۍ په مخ مشهور ادیان معرفي کوي، په دینونو کې د اسلامه نیولې بیا د نصرانیت او یهودیت سربېره هندویزم، سهکیزم، بودایزم، زردشت، کنفوشیزم، بهایان، قادیانیزم، سیکولرزم، الحاد، استشراق او استعمار معرفي کوي.

دلته د اسلام سپیڅلي دین ته تم کیږي او د اسلام پیژندنې وروسته څلور واړه مذاهب، د هغوئ تاریخچه او د پراختیا پر لاملونو غږیږي او همدا شان د اهل تشیع د مذهب پیژندنې سربیره یې په مهمو فرقو او د هغوئ په فقهي بنسټیزو اصلاحاتو بحث خورا د پام وړ دی.

دوهم څپرکي کې د تشدد غریزه چې انسانان ولې جګړې کوي او یا دا چې انسانانو ولې جګړو ته مخه کړه څیړي. همدا شان د اسلامي او غربي پوهانو د نظریو په اساس د جګړې لاملونه تشریح کوي.

دریم څپرکي کې د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په ژوندوني ترسره شوي غزاګانې او د اسلامي تاریخ د سترو جنګونو سربیره د مکې د فتحې په شمول د غزاګانو اخلاقي اصول، خلافتونه، تړونونه، بیلا بیلې جګړې او په ټوله کې د مسلمانانو مهم تاریخي دولتونه او واکمنۍ بحث کوي.

د مهمو تاریخي دولتونو او واکمنیو د بحث لړۍ د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم د وفات وروسته د خلفاء راشدینو له واکمنۍ او خلافت پیل کیږي او همداسې د تاریخ په اوږدو کې اموي خلافت، عباسي خلافت او همدا شان دا لړۍ د سلجوقیانو او د ترکانو عثماني سلطنت را وروسته ان چنګیزخان، ګوډ تېمور او د مغولي امپراتورۍ اخیري واکمن ظهیر الدین محمد بابر ته را رسیږي تشریح کوي.

د څلورم څپرکي په اوږدو کې لیکوال د صلیبی جنګونو په اړه د عمومي مالوماتو سربیره چې ولې ورته صلیبي نوم ورکول شوی، څنګه او څه وخت پیل کیږي او څه وخت پای ته رسیږي او همدا شان یې د دغه جګړو په اړه د بې پرې څېړونکو نظرونه را اخیستي او د لومړۍ صلیبي جګړې نیولې بیا تر نهمې صلیبي جګړې پورې یې د دغه لړۍ په ګټه او تاوان بحث ډیر د پام وړ دی. پدې برخه کې به دا هم ولولئ چې نننی منځنی ختیځ ولې په غم اخته دی او مسلمان څنګه د مسلمان د بدبختۍ لامل ګرځیدلی؟

پنځم څپرکی د نړۍ سترې تاریخې جګړې لکه د ناپیلون بوناپارت جنګونه، د تایپنګ بغاوت، د چین کورنۍ جګړې سربیره د روسیې کورنۍ جګړې، لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه او د هولو کاسټ (د یهوادانو ټولوژنه) لړۍ تشریح کوي. دلته د پورته یادو شو جګړو پر لاملونو سربیره د دغه خونړي دور ګټه او تاوان او د انسانانو د ریبل شویو ککریو شمیرې خورا لوړې دي.

د کتاب په وروستۍ برخه یعنې شپږ څپرکي کې لیکوال اصلي موضوع ته را ګرځي چې پکې په دیني او مذهبي جنګونو بحث کوي او د دائره المعارف د حوالې له مخې لیکي چې؛ (د هغو ثبت شوو جنګونو شمېر چې د مذهب او دین په نوم په خپلو منځونو کې یا له نورو سره شوي، شمیر یې ۱۷۶۳ ته رسیږي، ولې ډېره حیرانوونکې خبره دا ده چې یواځې ۱۲۳ جګړې د یوځانګړي مذهب یا ټاکلي دین اتباعو د خپلو معتقداتو لپاره ترسره کړي دي. دغه رقم یواځې اووه سلنه ده؛ پاتې یې د دین په نوم دي خو له دین سره تړاو نه لري.) په شخړو کې د دین په کارولو باندې تم کیږي او لیکي چې ځینې هېوادونه په کور دننه او بهر د شخړو په وړاندې مذهبي او دیني کارت کاروي. همدا شان په عقیدوي شخړو کې د دین دریځ تشریح کوي، دا برخه یې په دې د پام وړ ده چې په افغانستان د شوروي یرغل ته کتنه کوي چې څنګه د شوري د ماتیدا لپاره له دینه او دین کارولو څخه کار واخیستل شو. د جګړې په ضد جګړه هم بحث کوي او لیکي چې د سولې تعلیم کولای شي جګړه او تاوتریخوالی کمرنګه او نفرت تیت و پرک کړي.

د کتاب مهم ټکي:

د دې کتاب د لوستو ارزښت پدې کې دی چې؛ د دین او جګړې ترمنځ د اړیکې یو ژور او تفصیلي تحلیل وړاندې کوي. د دې کتاب لوستل تاسو ته د دیني جنګونو او تشدد د تاریخي، نظریاتي، او عملي لاملونو په اړه پوهه درکوي. د تاریخي پیښنو، لکه د صلیبی جنګونو او نړیوالو جګړو، تحلیل تاسو ته د دې پوهې ترلاسه کولو کې مرسته کوي چې څنګه دین د جګړو او شخړو لپاره د توجیه یا د لامل په توګه کارول شوی دی.

څه ترې زده کوو؟ د دې کتاب له لوستو وروسته زده کوو چې څنګه دين د جګړو او شخړو لپاره د توجيه يا د لامل په توګه کارول شوی دی او کله چې د جګړې د لاملونو په اړه وپوهېږو نو بيا کولو شو چې د جګړې د مخنيوي لپاره تدابير ونيسو. دا کتاب د تشدد غريزه، د جګړو لاملونه، او د انسانانو د جګړې رواني، ټولنيز، او سياسي عوامل تحليل کوي. د دې معلوماتو سره، تاسو کولی شئ د تشدد د کموالي لپاره مناسب لارې چارې ومومئ.

دا کتاب را زده کوي چې د سولې تعليم کولی شي جګړه او تاوتريخوالی کمرنګه کړي او د نفرت مخه ونيسي. د دې نظريې سره، تاسو د سولې په وړاندې د تعليمي تدابيرو په مؤثريت پوهېږئ.

اخيري پايله او پيغام : دين بايد د سولې او ارامۍ وسيله وي، نه د جګړې او تشدد : دين بايد د ټولنې د پرمختګ، سولې، او ارامۍ لپاره وکارول شي، نه د جګړو او تشدد لپاره. د دې پيغام سره، دا کتاب په دې ټينګار کوي چې د دين د اصلي موخو سره سم عمل وکړو او د دين په نامه د شخړو د مخنيوي لپاره د سولې او عدل اصولو ته ژمن شو.

په پای کې تاسو ټول د دغه کتاب لوستو ته را بولم، هتمن يې ولولئ. تر بيا ښې چارې.

**YouTube:** [Www.Youtube.com/Book_Readers](http://Www.Youtube.com/Book_Readers)